# په حلاله طريقه د ګټلو ۵۰ مَدَني ګلونه


شيخِ طريقت، اَمِيرِ اَهلسُنّت، باني دعوتِ اسلامي، حضرتِ علّامه مولانا ابُو بِلال

**محمّد اِلياس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالية


پښتو ترجمه:
مجلس تراجم
(دعوتِ اسلامي)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندي دُعا لولئ اِنۡ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰھُمَّ افۡتَحۡ عَلَيۡنَا حِكۡمَتَكَ وَانۡشُرۡ عَلَيۡنَا رَحۡمَتَكَ يَا ذَاالۡجَلَالِ وَالۡاِكۡرَام

تَرجَمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج۱ ص۴۰، دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف ولولئ)

طالبِ غم مدينه بقيع ومغفرت

د رِسالې نوم: په حلاله طريقه د ګټلو پنځوس مَدَني ګُلونه

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَکۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنَه عالمی مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ الۡمَدينه کراچۍ.

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ کولو اجازت نشته

## کتاب اخستونکي توجّه وکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼرې کمې وي يا په بائنډنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلې وي نو مَکۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنَه ته رجوع وکړئ.

www.dawateislami

# په حلاله طريقه د ګټلو ۵۰ مَدَني ګلونه

شيخ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علاّمه مَولانا ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دا رِساله "حلال طریقے سے کمانے کے 50 مدنی پھول" په اردو ژبه کښې ليکلې ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمې زياتې اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجِم ته خبر وکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

**پیشکش:**

**مجلسِ تَراجِم دعوتِ اِسلامي**


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net


www.dawateislami

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# پہ حلاله طريقه د ګټلو ۵۰ مَدَني ګلونه

شيطان مو كه هر څومره منع كوي خو تاسو دا
رساله پوره ولولئ او خپل آخرت بهتر كړئ.

## د دُرود شريف فضيلت

د اَميرُ الْمُؤمِنين حضرتِ سَيِّدُنا ابوبكر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دي چه په نَبِيِّ كريم رَءُوْفٌ رَّحِيم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود شريف لوستل ګناهونه دومره زر ورانوي چه اوبه هُم اور دومره زر نه مړ كوي او په نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې سلام ليږل د ختونو (يعني د غُلامانو) آزادولو نه غوره دي. (تاريخ بغداد ج ۷ ص ۱۷۲)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي وروڼږو! څوك چه مُلازِم [يعني نوكر] لګوي هغه د نوكر ساتلو او څوك چه ملازَمت [يعني نوكري] كوي په هغه د نوكرئ كولو د ضروري اَحكامو عِلم حاصلول فرض دي. كه حسبِ حال [يعني د خپل حال مطابق چه كوم كوم عِلم حاصلول فرض دي هغه] عِلم حاصل نه كړي نو ګنهګار او د جَهنَّم د عذاب حقدار به وي، او د نه پوهيدلو په وجه بيا بيا په ګناهونو كښې اخته كيدل د دې نه

علاوه دي. په دې رِساله کښې صِرف مُنتخب مسائل ليکلې شوي دي، د نورو معلوماتو حاصلولو د پاره "بهارِ شريعت" جِلد ۳ صفحه ۱۰٤ تا ۱۸٤ کښې "اِجارے کا بيان" [يعني د اِجارې بيان] ولولئ. اول د حلال روزۍ فضيلت او د حرامې روزۍ تباهيانې مُختصراً وړاندې کيږي، الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی په قُرآنِ مجيد کښې ارشاد فرمائي: وَمَا مِنۡ دَآبَّةٍ فِي الۡاَرۡضِ اِلَّا عَلَى اللهِ رِزۡقُهَا مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او په زمکه ګرځيدونکې يو داسې نشته چه د هغه رِزق د الله په ذِمّهٔ کرم نه وي.

مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په "نُورُالعِرفَان" کښې فرمائي: په زمکه ګرځيدونکې ئې ځکه ياد کړې دي چه مونږ ته هُم د دې مُشاهَده ده (يعني هُم دا وينو) ګني پيريانو وغيره ته (هُم) رب (تعالٰی) روزي ورکوي. د هغه رَزّاقِيَّت صِرف په حيوانانو کښې مُنحصر نه دې، بيا چه څوك د کومې روزۍ لائق دې هغه ته هُم هغه روزي ورکوي. ماشوم ته د مور په ګيډه کښې يو قِسم روزي او د پيدائش نه پس د غاښونو راختلو پورې بل قِسم او چه بيا غاښ شي نو بل قِسم[روزي ورکوي]. (نُورُالعِرفَان ص ۳۵۳ بتَغَيُّر قليل)

## د حلالې روزۍ په باره کښې ۵ فرامِينِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم:

﴿۱﴾ د ټولو نه زيات پاکيزه طعام هغه دې کوم چه د خپلې ګټې نه اوخوړې (تِرمِذِی، ج۳ ص۷٦ حديث۱۳٦۳) ﴿۲﴾ بيشکه الله تعالٰی مسلمان پيشه کوونکې خوښوي (اَلۡمُعۡجَمُ الۡاَوۡسَط ج٦ ص۳۲۷ حديث۸۹۳٤) ﴿۳﴾ په چا چه د

مزدورئ نه په ستړي كيدو مابنام راشي د هغه، هُغه مابنام دِ د مغفرت [يعني د بخښينې] مابنام شي (ايضاً ج۵، ص۳۳۷ حديث۷۵۲۰) ﴿۴﴾ پاكې ګټې والا د پاره جَنَّت دې (معجم كبير ج۵ ص۷۲ حديث۴۶۱۶) ﴿۵﴾ څه ګناهونه داسې دي چه د هغې كَفّاره نه لـمونځ كيدې شي نه روژې نه حج نه عُمره. د هغې كَفّاره هُغه پريشانئ وې كومې چه انسان ته د حلال مَعاش په تلاش كښې رسي.

(ايضاً ج۱، ص۴۲ حديث۱۰۲)(فَتَاوىٰ رَضَوِيّه ج۲۹، ص۳۱۴ تا ۳۱۷)

## د حلالې نوړئ فضيلت

مونږ ته هميشه حلاله روزي ګټل، خوړل او په نورو خوړل پكار دي. د حلالې نوَړئ به څه وائې چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتې اِدارې مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنه چاپ شوې د ۱۵۴۸ صفحو كتاب "فيضانِ سُنَّت" جِلد اوَّل صفحه ۱۷۹ كښې دي: حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د اِحيَاءُ الْعُلُوم په دويم جِلد كښې د يو بزرګ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه قول نقل كوي: **مسلمان چه كله د حلال طعام ورومبئ نوړئ خوري نو د هغه مخكښنې ګناهونه معاف كړې شي.** او څوك چه د طَلَبِ حلال د پاره د رُسوائې مقام ته ځي د هغه ګناهونه د ونې د پاڼرو په شان رژيږي. (اِحيَاءُ الْعُلُوم ج۲ ص۱۱۶)

## د حرامې روزۍ په باره کښې ٤ فرامِينِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

﴿١﴾ يو کس اوګد سفر کوي چه د هغه ويښته مُنتَشِر (يعني ګډ وډ) دي او بدن ئې په دوړو خړ دې (يعني د هغه حالت داسې دې چه که څه دُعا وکړي هغه به قبوله شي) هغه د آسمان طرف ته لاس پورته کړي يا ربّ! يا ربّ! وائي (يعني دُعا کوي) خو حالت دا دې چه د هغه طعام حرام، څښاك حرام، لِباس حرام او غِذا [يعني خوراك] حرام بيا د هغه دُعا ولې قبوله شي (مُسلِم ص٥٠٦ حديث٦٥.(١٠١٥)) (يعني که د دُعا قبليدو خواهش لرئ نو کَسبِ حلال اختيار کړئ) ﴿٢﴾ په خلقو به يوه زمانه داسې راځي چه انسان به پرواه هُم نه کوي چه دا څيز ئې د کوم ځائ نه حاصل کړې دې، د حلال نه يا د حرام نه (بُخارى ج٢ ص٧ حديث ٢٠٥٩) ﴿٣﴾ کوم بنده چه مالِ حرام حاصلوي، که هغه صَدَقه کړي نو مقبول نه دې او که خرچ ئې کړي نو په هغې کښې د هغه د پاره بَرَکت نشته او که مړ شي او په ځان پسې ئې پريږدي نو جَهنَّم ته د تللو سامان دې. الله تعالٰى بدي په بدئ نه ختموي، آو په نيکئ بدي ختموي، بيشکه خبيث (يعني ناپاکه) خبيث نه پاکوي (مُسنَدِ اِمام اَحمَد بِن حَنبَل. ج٢ ص٣٤ حديث٣٦٧٢) ﴿٤﴾ چا چه عيب والا څيز بَيع (يعني خرڅ) کړو او هغه (عيب) ئې ښکاره نه کړو، هغه هميشه د الله تعالٰى په ناراضئ کښې دې يا ئې اُوفرمائيل چه هميشه فرښتې په هغه لعنت کوي.

(سُنَنِ اِبنِ مَاجَه ج٣ ص٥٩ حديث٢٢٤٧. بهارِ شرِيعت ج٢ ص٦١٠. ٦١١. ٦٧٢)

## د حرامې نوَړئ سپيره والې

په **مُكَاشَفَةُ الْقُلُوب** کښې دي: د انسان په خيټه کښې چه کله حرامه نوَړئ پريوته نو د زمکې او آسمان هره فرښته به په هغه لعنت کوي تر څو چه د هغه په خيټه کښې وي او که په هُم دې حالت کښې (يعني په خيټه کښې د حرامې نوَړئ په موجودګئ کښ) ئې مرګ راغې نو جَهنَّم ته به داخليږي. (مُكَاشَفَةُ الْقُلُوب ص١٠)

## په حلاله طريقه باندې د ګټلو ٥٠ مَدَنـي ګلونه

﴿١﴾ مالِك او نوکر دواړو باندې حَسبِ ضرورت د اِجارې شرعي اَحکام زده کول فرض دي، که نه ئې زده کوي نو ګنهګار به وي. (د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِدارې مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوې کتاب "بهارِ شريعت" جِلد٣، حِصّه ١٤ صفحه ١٠٤ تا ١٨٤ کښې د اِجارې تفصيلي اَحکام درج دي)

﴿٢﴾ د نوکر نيولو په وخت کښې د مُلازَمت [يعني د نوکرئ] د ميعاد [يعني ټاکنې]، د کار د وختونو او د تنخوا وغيره د مخکښې نه تَعَيُّن کيدل ضروري دي.

﴿٣﴾ اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: د کار درې حالتونه دي (١) سُست (٢) مُعتَدِل (يعني درميانه) (٣) ډير زيات تيز.

که په مزدورئ کښې (کم از کم په اِعتِدال يعني درميانه هُم نه[وي]، صِرف په) سستئ سره کار کوي ګنهګار دې او د هغه د پاره پوره مزدوري اخستل حرام دي. د هغه هُمره کار (يعني څومره ئې چه کړې دې د هغې لائق (يعني مطابق) چه څومره اُجرت دې هغه دِ واخلي، د هغې نه چه څه زياته ورکړې شوه مُستاجِر ته (يعني د چا سره ئې چه د مُلازَمت مُعاهَده کړې ده هغه ته) دِ ئې بيرته ورکړي. (فَتَاوىٰ رَضَوِيّه ج۱۹،ص۴۰۷)

﴿۴﴾ چه کله په کار کښې سست پريوتو [يعني سستي ترې وشوه] نو سوچ دِ وکړي چه په "مُعتَدِل" يعني درميانه انداز کښې څومره کار کيدې شي مَثَلًا کمپوټر آپريټر دې او د ورځې ۱۰۰ روپۍ اُجرت اخلي، په درميانه انداز کښې هره ورځ ۱۰۰ کرښې کمپوز کوي [يعني په کمپيوټر سل کرښې ليکي] خو نن ئې صرف د سستئ په وجه يا د غير ضروري خبرو په وجه ۹۰ کرښې تيارې کړې نو د لسو کرښو د کمي دِ لس روپۍ مُجرائي [يعني کټوتي] وکړي ځکه چه دا لس روپۍ اخستل حرام دي، که مُجرائي [يعني کټوتي] ئې ونکړه نو ګنهګار او د جَهنَّم د اور حقدار دې.

﴿۵﴾ که حکومتي اِداره وي او که پرائيويټ، مُلازِم که کار له د راتللو په مُعامَله کښې قصداً د عُرف نه زيات ناوخته کوي يا چوټيانې کوي نو هغه د مُعاهَدې د قصداً خلاف ورزئ ګناه وکړه او که په دې صورتونو کښې پوره تنخواه اخلي نو نور ګنهګار او د اور د عذاب حقدار دې. اِمام اَحمد رضا خان رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه فرمائي: "کومې جائزې

پابندئ چه مشروط (يعني [ کوم شرطونه چه] ايښودلې) شوي وې د هغې خِلاف کول **حرام** دي او په خرڅ شوي وخت کښې خپل کار کول هُم **حرام** دي او په ناقِص کار کولو پوره تنخواه اخستل هُم **حرام** دي." (فَتَاوٰیٰ رَضَوِیّه، ج۱۹، ص۵۲۱)

﴿٦﴾ که د حکومتي اِدارې افسر ناوخته راځي او د هغه د کوتاهئ په وجه دفتر ناوخته خلاصيږي [يعني بيرته کيږي] نو بيا هُم په هر ملازِم لازمه ده چه په طے شوي [يعني خپل مقرر کړې شوي] وخت باندې رسيږي اګر که بهر ناست انتظار کول پيښيږي. د خائن او غيرِ مُختار افسر له طرفه ملازم ته د ناوخته راتلو يا د زر تللو وئيل يا اِجازت ورکول هُم ناجائزه نه شي جائز کولې. د وخت پابندي به په ټولو باندې بيا هُم ضروري وي.

﴿٧﴾ په حکومتي ادارو کښې د افسر او عام ملازِم د ټولو د اجارې مخصوص وخت وي او په هر يو باندې پوره وخت ورکول لازِم وي. بعضې وخت افسر [بې د شرعي اِجازته] د وخت نه مخکښې لاړ شي او خپل ماتحت ملازم ته هُم وائي چه ته هُم ځه! تللو والا افسر خو ضرور ګنهګار دې، که ملازم لاړو نو هغه به هُم ګنهګار وي لِهٰذا واجب دي چه که کار وي او که نه وي هُم هلته په دفتر کښې دِ د اجارې وخت پوره کړي. چه څوك هُم دغسې لاړ شي هغه باندې لازم دي چه د خپلې تنخواه نه مُجرائي [يعني کټوتي] وکړي.

# د اَجِیر د اُجرت مسئله

**سُوال:** ملازم په وخت ورسیدو خو د چا سره چه د د فتر کُنجي وه هغه ناوخته راغلې یا غیر حاضر شو او دفتر خلاص [یعني بیرته] نه کړې شو، په داسې صورت کښې چه کوم ملازم راغلې دې د هغه مُجرائي [یعني کټوتي] به کیږي که پوره تنخواه به اخلي؟

**جواب:** اَجِیرِ خاص دوه قِسمه دي: مُستَقِل مُلازِم (مثلاً تنخواه دار نوکر) او ورځنې مُلازِم یعني د ورځې ورځې په تنخواه کار کوونکې. دواړو ته په صورتِ مسئُوله (یعني دې تپوس شوي صورت) کښې د اُجرت [یعني مزدورئ] ورکولو او نه ورکولو دار و مَدار د عُرف [یعني رواج] یا صَراحَت (یعني صفا الفاظو کښې طے شوي [یعني معاهده] شوي صورت) باندې دې څنګه چه د اِجارې د نورو ډیرو مسئلو دار و مدار په عُرف یا صَراحَت باندې دې او زمونږه دلته عُرف دا دې چه مُستقِل مُلازِم ته خو په صُورتِ مَسئُوله کښې اُجرت ورکولې کیږي او د ورځې ورځې په تنخواه کار کوونکې ته نه ورکولې کیږي البتّه که د کوم یو ځائ عُرف د دې نه علاوه وي نو د هغې مطابق به عمل کیږي. هُم دغسې عُرف اګر چه هر څنګه وي خو که د څه قِسمه صَراحَت موجود وي نو بیا به د هغې اعتبار وي. (فَتَاوٰی اَهلِسُنَّت غیر مطبوعه)

﴿۸﴾ مُلازم ته پکار دي چه دفتر يا دُکان ته د تلو راتلو وخت په رجسټر وغيره کښې صحيح ليکي، که د غلط بيانئ نه ئې کار واخستو او د کمې ډيوټۍ ورکولو [يعني د کم کار کولو يا کم وخت ورکولو] باوجود ئې د پوره وخت تنخواه واخستله نو ګنهګار او د [د جَهنَّم] د اور د عذاب حقدار دې.

﴿۹﴾ د وخت په اِجاره کښې که کار وي او که نه وي يا د [کار] زر ختمولو په صورت کښې که د وخت نه مخکښې لاړو نو د وقف د مال نه هغه ته د پوره تنخواه اخستل يا ورکول جائز نه دي بلکه چه څو ګينټې مَثَلًا درې ګينټې مخکښې لاړو نو په هغه قدر به د هغه د اُجرت [يعني تنخواه] نه مُجرائي [يعني کټوتي] کيږي. البتّه که د ذاتي (يعني غير سرکاري) اِدارې مالِك ته معلومه وي او په خپله رضامندئ پوره تنخواه ورکړي نو جائز ده.

﴿۱۰﴾ په کومو اِدارو کښې چه د بيمارئ رخصت [يعني چُوټياني] ورکولې کيږي هلته د نه بيماريدو باوجود په دروغو وئيلو يا د ډاکټر جعلي (نقلي) پرچئ ښودلو باندې ناغه [يعني چُوټي] کول ګناه ده. قصداً د دروغو پرچئ ليکونکې ډاکټر هُم ګنهګار او [د جَهنَّم] د اور د عذاب حقدار دې.

﴿۱۱﴾ په کوموِ اِدارو کښې چه د عِلاج فري سهولتونه ورکولې کيږي، د هغې نه د دروغو په بهانو دوائي حاصلول، په خپل نوم د بل د پاره دوائي راخستل وغيره حرام او جَهنَّم ته بوتلونکې کار دې. داسې خلقو سره قصداً مدد کوونکې هُم ګنهګار دې.

﴿۱۲﴾ د تنخواه زياتولو د پاره او په عُهده وغيره کښې خپله ترقي کولو د پاره جعلي (نقلي) سَنَد اخستل ناجائزه او ګناه ده، ځکه چه دا په دروغو او دوکه مُشتمِل [کار] دې.

﴿۱۳﴾ ملازِم ته پکار دي چه د کار په دوران کښې چاق و چوبند [يعني چُست، تيز او بيدار] اوسي او د سُستئ پيدا کولو اسبابو نه ځان ساتي مَثَلًا د شپې ناوخته اوده کيدو په وجه بلکه د نفلي روژې نيولو په وجه که په کار کښې کوتاهي کيږي نو د دې کارونو نه دِ ځان ساتي ځکه چه قصداً په کار کښې سستي کوونکې اګر که [د تنخواه] نه مُجرائي [يعني کټوتي] هُم وکړي نو بيا هُم يو قِسم ګنهګار دې ځکه چه هغه د کار کولو مُعاهَده کړي ده او د دې مُعاهدې په وجه د هغه د پاره ضروري دي چه کم از کم مُعتَدِل يعني درميانه انداز کښې کار وکړي. اوس [تيرو صفحو کښې] د "فَتَاوٰی رَضَوِيَّه" جِلد ۱۹، صفحه ۴۰۷ په حواله تير شو چه "که په مزدورئ کښې په سستئ کار کوي نو ګنهګار دې." ښکاره خبره ده چه د مُلازِم د بې ځايه سستئ او

چوټيانو [رخصتونو] په وجه د کار د مالِك نقصان کيږي. بهرحال که څوك تپوس کوونکې وي او که نه خو که د سستئ په وجه په کار کښې هر څومره کمې وشي نو د الله تعالیٰ د ويرې په وجه په تنخواه کښې هغه هُمره مُجرائي [يعني کټوتي] کول پکار دي، توبه دِ هُم وکړي او مُستاجِر (يعني د چا سره ئې چه اجاره کړې ده) د هغه نه دِ بخښنه هُم اوغواړي. خو که غير سرکاري اِداره وي او مالِك ورته [بخښنه هُم وکړي او] د کټوتئ رقم هُم ورته معاف کړي نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ خلاصې (يعني نَجات) به ئې وشي.

﴿۱۴﴾ اَجيرِ خاص (يعني څوك چه په مخصوص وخت کښې د يو مالِك يا اِدارې د کار پابند وي) په هغه مُقَرَّره وخت (يعني د نوکرئ په دوران) کښې خپل ذاتي کار هُم نه شي کولې او د لـمونځونو په وخت کښې فرض او سُنَّتِ مُؤَکَّده ادا کولې شي او نفل لـمونځ کول د اِجارې په دوران کښې د هغه د پاره جائز نه دي (هله چه صراحتاً يا عُرفاً اجازت نه وي) او د جُمُعې په ورځ به د جُمُعې لـمانځه ته ځي خو که جامِع مسجِد [يعني د جُمُعې د لـمانځه جُمات] لرې وي چه وخت به زيات لګي نو د هغه هُمره وخت اُجرَت به کم اخلي او که نزدې وي نو هيڅ کمې به نه کيږي خپل اُجرت به پوره اخلي. (بهارِشريعت ج۳، ص۱۶۱، رَدُّالْمُحْتَار ج۹ ص۱۱۸)

(که د کار په دوران کښې د ماسخُتن لـمونځ راغې نو وِتر کولې شي)

﴿۱۵﴾ که په څه خاص وجه اَجيرِ خاص کار ونکړي شو نو د اُجرت مُستَحِق [يعني حقدار] نه دي مَثَلًا باران وريدو او د هغې په وجه ئې کار ونکړي شو اګرچه حاضر شوي وو اُجرت به نه ورکولې کيږي (يعني د هغه ورځ تنخواه به نه ورکوله کيږي) (ايضاً، رَدُّالْمُحْتَار ج۹ ص۱۱۷)

البتَّه که د دې د تنخواه ورکولو هُم عُرف وي نو ورکوله کيږي به، ځکه چه د تعطِيلاتِ مَعهُوده (يعني د کومو رخصتونو چه معمول وي د هغې) تنخواه ورکولې کيږي.

﴿۱۶﴾ هر مُلازِم دِ د خپلې هرې ورځې د کار احتِساب (يعني حساب کتاب) کوي چه نن د کار په وخت کښې په غير ضروري خبرو يا بې ځايه کارونو وغيره کښې څومره وخت ولګيدو؟ څومره ساعت ناوخته راغلم؟ وغيره، د دې نه علاوه دِ د غير واجِبي رخصتونو شمير وکړي او بخپله دِ حساب ولګوي او د هرې مياشتې د تنخواه نه دِ مُجرائي [يعني کټوتي] وکړي. د دعوتِ اسلامي په جامِعَاتُ الْمدِينه او نورو شُعبو کښې ځيني مُحتاط اجيران ليدلې شوي دي چه د خپلې مُشاهِرې (يعني تنخواه) نه هره مياشت احتياطاً څه نه څه کټوتي کوي. د هغوئې جذبه صد کروړ مرحبا! هر يو ته د دې بنو کسانو په شان کول پکار دي. که خپل څه مو اِدارې ته پاتې شو نو څه نُقصان نه دي

خو كه چا يوه روپۍ هُم قصداً ناجائزه واخستله نو د آخرت د عذاب تاب هيڅ څوك هُم نه لري.

﴿۱۷﴾ **مُراقِب** (يعني سُپر وائزر) يا مُقرره ذِمّه دار دِ د ټولو مزدورانو حَسبِ اِستِطاعَت نګراني كوي. په وخت او كار كښې د كوتاهۍ كوونكو مُكَمَّله كاركردګي (يعني رپورټ) دِ د كمپنۍ يا د اِدارې مُتَعَلِّقه افسر ته رسوي. **مُراقِب** (يعني سُپر وائزر) كه د همدردۍ يا لِحاظ په وجه يا په بله څه وجه قصداً [په مزدورانو] پرده اچوي نو خائن [خيانت كوونكې] او ګنهګار او [د جهنَّم] د اور د عذاب حقدار دې.

﴿۱۸﴾ د مذهبي يا سَماجي اِدارې مقرر ذِمَّه داران او مُفَتِّشِين كه د اِدارې د ملازمانو د كوتاهۍ او غير قانوني رخصتونو [يعني چوټيانو] نه خبر وي او قصداً ځان ناغرضه كړي او په دې وجه به هغه مُلازِمانو ته د وقف د رقم نه پوره تنخواه وركولې كيږي نو د [تنخواه] اخستونكو سره سره به مُتَعَلِّقه ذِمَّه دار هُم خائن او ګنهګار او د عذابِ نار حقدار وي.

﴿۱۹﴾ په كومه شرعي اِداره كښې چه د اِجارې په شرعي مسائلو باندې په سختۍ سره عمل كولو ليدلو باندې د هغې نه ډېره كول يا صرف په دې وجه استعفٰى وركول او داسې ځائ كښې نوكري اختيارول چه هلته

خوك تپوس كولو والا نه وي دا ډيره زياته نامناسبه خبره ده. بلكه دا سوچ جوړول پكار دي چه كوم ځائ كښې په شرعي اَحكامو باندې په سختئ سره عمل كيږي هُم هغلته كار كووم چه د دې په بَرَكت دګناهونو د سپيره والي نه بچ اوسم او حلاله او پاكه روزي وګټم.

﴿۲۰﴾ خوك چه د اِجارې مطابق كار نه شي كولې مَثَلًا مُدَرِّس دې خو صحيح سبق نه شي ښودلې نو هغه ته پكار دي چه فوراً مُستاجِر (يعني چا سره ئې چه اِجاره كړې ده هغه) ته خبر وكړي.

﴿۲۱﴾ كه د وقف د اِدارې كوم مُدَرِّس صحيح (سبق) نه شي ښودلې هُم دغسې كه ناظِم يا د هر قِسم اَجِير د عُرف و عادت نه علاوه كوتاهي كوي نو په مُتَعَلِّقه ذِمَّه دار واجِب دي چه هغه معزُول كړي [يعني د ذِمّه دارئ نه ئې لرې كړي].

﴿۲۲﴾ كه د مخصوص ميعاد مَثَلًا د دولسو مياشتو د پاره د مُلازَمت اِجاره ئې وي نو د فريقينو د رضامندئ نه بغير اجاره نه شي ختميدلې، د مالك بې وجه دباوونه اچول چه (د خت نه مخكښې) به دِ اوباسم او هُم دغسې په ضرورتمند مالِك باندې د نوكر دباوونه اچول چه زه به نوكري پريږدم، دا صحيح نه دي. خو چه كومې مجبورئ شريعت تسليموي نو په هغه صورت كښې په دواړو كښې هر يو د وخت نه مخكښې اجاره ختمولې شي.

﴿۲۳﴾ که چا ته ئې اُووئيل چه د يکم تاريخ نه کار له راځه او اُجرت [يعني تنخواه] ئې مقرره کړه خو د ميعاد [يعني د وخت] ټاکنه ئې ونکړه نو عُرف [يعني د هغه ځائ رواج] ته به کتلې شي که د ورځې په مزدورئ ئې لګوي نو د يوې ورځ، که د هفتې د پاره ئې لګوي نو د يوې هفتې او که د مياشت د پاره ئې لګوي نو د يوې مياشتې اجير به ګڼړلې شي. مَثَلًا که په هغه کار روزګار کښې د يوې مياشتې عُرف وي نو مالِك او نوکر دواړو ته اختيار دې چه د مياشتې په ختميدو اِجاره ختمه کړي، که اِجاره ئې ختمه نه کړه او د بلې مياشتې يوه شپه او يوه ورځ تيره شوه نو بيا د دې مياشتې د پوره کيدو پورې د اجارې ختمولو اِجازت نشته، چه کله هُم اِجاره ختمول غواړي نو د مياشتې د اولنئ ورځ نه به ئې ختموي. خو د مياشت پوره کيدو نه مخکښې اجِير او مُستاجِر يو بل ته اطلاع کولې شي چه د راروانې مياشتې د يکم تاريخ نه به اِجاره ختمه شي. فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه جِلد ۱٦ صفحه ۳٤٦ کښې د يو سوال په جواب کښې ليك دي چه عام رواج هُم دا دې چه د اِجارې څه موده نه مُعَيَّن کيږي [يعني نه ټاکلې کيږي] چه (مَثَلًا) د يو کال د پاره مې ته اِمام کړې يا د شپږو مياشتو د پاره بلکه صرف اِمامت او د هغې په مُقابِل [يعني عِوَض] کښې مياشتنئ د دومره (تنخواه) تړلو بيان کيږي، نو داسې اجاره صرف د وړومبئ مياشتې د پاره صحيح شوه او د هرې مياشتې په سر اجير او مُستاجِر دواړو ته د يو بل په وړاندې د دې د

فَسخ (يعني منسُوخ) کولو اختيار وي. په ”دُرِّمُختار“ کښې دي: دُکان ئې په کرايه ورکړو چه هره مياشت به دومره کرايه وي نو فقط د يوې مياشتې د پاره اِجاره صحيح شوه، په باقي مياشتو کښې د جهالت په سبب (يعني د اجارې د ميعاد نه ټاکلو په وجه اجاره) فاسِد ده او چه مياشت پوره شوه نو هر يو ته د بل په وړاندې د اِجارې فَسخ (يعني منسوخ) کولو اختيار دې ځکه چه عَقدِ صحيح ختم شو.
(دُرِّمُختار ج۹ ص۸٤)

﴿۲٤﴾ مسلمان د کافِر د خِدمتګارئ نوکري وکړه دا منع ده بلکه په څه داسې کار دِ د کافِر سره اِجاره نه کوي چه په هغې کښې د مسلمان ذِلَّت وي (ځکه چه داسې اِجاره جائز نه ده). (عالمګيرى ج٤، ص٤٣٥) عمومي طور دا کارونه، يعني د کافِر ښپې زور کول، د هغه د بچو ګندګي صفا کول، د هغه په کور يا دفتر کښې شوره کول يا جارو کول، ګند او کچره اوچتول، د بيتُ الخلا او ګنده لښتو صفائي کول، د هغه ګاډې وينځل وغيره په ذِلَّت کښې شامِل دي. البته داسې نوکري چه په هغې کښې د مسلمان ذِلَّت نه وي هغه د کافِر سره کول جائز دي.

﴿۲۵﴾ سيِّد زاده هُم د ذِلَّت په کار مزدور ساتل جائز نه دي. د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي د ٦٩٢ صفحو کتاب ”**کُفرِيه کَلِمات کے بارے میں سوال جواب**“ صفحه ۲۸٤ تا ۲۸۵ کښې دي: اعلٰی

حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحمۃُاللہِ تعالٰی علیہ ته عرض وکړې شو: د سيّد ځوئ چه شاګرد وي يا نوکر وي [نو د هغه] نه دِيني يا دُنياوي خِدمت اخستل، او هغه وهل جائز دي که نه؟
**الـجواب:** د هغه نه ذليل خِدمت اخستل جائز نه دي او نه په داسې خِدمت باندې هغه مُلازِم کول جائز دي. او په کوم خِدمت کښې چه ذِلَّت نشته په هغې ئې مُلازِم ساتلې شي، د شاګرد کيدو په حالت کښې هُم چه د کومې پورې عُرف او معروف وي (يعني خِدمت اخستل ترې) شرعاً جائز وي نو ترې اخستې ئې شي او د هغه (يعني د سيِّد) د وهلو نه دِ مُطلق احتِراز (يعني بالکل پرهيز) وکړې شي. وَاللهُ تعالٰی اَعلَم
(فَتَاوىٰ رَضَوِيّه، ج۲۲، ص۵۶۸)

﴿۲۶﴾ مُلازِم دِ د دفتر وغيره قلم، کاغذ او نور څيزونه په خپلو ذاتي کارونو کښې د استعمالولو نه اِجتِناب (يعني پرهيز) کوي.

﴿۲۷﴾ که د اِدارې د طرف نه په ذاتي کار کښې د تيليفون استعمالولو اجازت وي نو د اِجازت د حده پورې ئې استعمالولې شي که اِجازت نه وي نو د ذاتي کار د پاره استعمالول ناجائزه او ګُناه ده.

﴿۲۸﴾ د اِجارې په وخت کښې کله کله د ډير قليل (يعني ډير کم) وخت د پاره د ذاتي فون اوريدلو عُرفاً اجازت وي. البته که څوک د اِجارې په وخت کښې ساعت په ساعت په فون خبرې کوي او بيا

خبرې اترې هُم د لس پينځلّس مِنَټو نه کمې نه وي نو داسې په ذاتي فون خبرې کول جائز نه دي ځکه چه داسې به د کار او مُستاجِر (يعني چا سره چه په اجاره کار کوي) هُم نقصان کيږي.

﴿۲۹﴾ په مُلازِم باندې د اِجارې د مودې په دوران کښې په خبره خبره دباوونه اچول چه د مودې پوره کيدو نه مخکښې مخکښې به دِ د نوکرۍ نه اُوباسم، دا صحيح نه ده بلکه بعضې وخت ئې په څه وره شان خبره باندې په غُصّه کښې اُوباسي داسې، کول جائز نه دي، خو که څه ډيره غټه مُعامَله پيښه شي، چه هغه شرعاً په يو طرفه اِجازت [د اِجارې] د فسخ کولو عُذر وي نو په دوارو کښې هر يو اجاره ختمولې شي مَثَلًا بل مُلك ته لاړو او د دوو کالو اِجاره ئې طے کړه [يعني وکړه] خو چه څنګه يو کال پوره شو نو د وِيزې ميعاد ختم شو او بيا تازه نه شوه نو مُلازِم دِ اِجاره ختمه کړي ځکه چه د قانوني جُرم کيدو په وجه بغير د وِيزې نه د هغه هلته اوسيدل جائز نه دي.

﴿۳۰﴾ [داسې مُعاهده کول چه] که نوکري (يا په کرايه باندې اغستې دُکان وغيره) دِ پريښودو نو يوه مياشت مخکښې به راته وائې ګني د يوې مياشتې تنخواه به درنه کټ کووم (يا به درنه کرايه وصولووم)، مُلازِم (يا کرايه دار) سره داسې مُعاهده کول بالکل باطل ده. که هغه يوه مياشت مخکښې د اطلاع کولو نه بغير نوکري ختمه کړه (يا ئې په

کرايه اخستې ځائ خالي کړو) نو بيا به هُم ترې تنخواه کټ کول (يا زياته کرايه وصولول) ظُلم وي، په داسې موقع د يوې مياشتې څه که د يوې ګينټې تنخواه ئې هُم ترې کټ کړه (يا ئې ترې زياته کرايه وصول کړه) نو ګنهګار او د عذابِ نار حقدار به وي.

﴿۳۱﴾ مُلازِم که د مَرَض په وجه ناغه وکړه يا ئې کار کم وکړو نو مُستاجِر (يعني چا سره ئې چه اِجاره کړې ده هغه) ته د تنخواه نه د مُجرائي [يعني کټوتي] کولو حق دې خو د دې صورت دا دې چه څومره کار ئې کم کړې دې صرف هغه هُمره مُجرائي [يعني کټوتي] به کوي مَثَلًا اته ګينټې ډيوټي [يعني د کار وخت] ئې وو او درې ګينټې کار ئې ونکړو نو صرف د درې ګينټو اُجرت دِ ترې کټ کړې شي، د پوره ورځې يا د نيمې ورځې مزدوري کټ کول ظلم دې. (د تفصيل د پاره فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه جِلد ۱۹ صفحه ۵۱۵ تا ۵۱۶ اوګورئ)

﴿۳۲﴾ اِمام او مُؤَذِّن که د عُرف او عادت د رُخصتونو نه علاوه غير حاضري وکړي نو د تنخواه نه دِ مُجرائي [يعني کټوتي] کوي مَثَلًا که د اِمام ۳۰۰۰ روپۍ تنخواه وي نو په غيرحاضري کولو دِ د يو لـمانځه په حساب ۲۰ روپۍ کټ کړي، هُم دغسې دِ مُؤَذِّن صاحب هُم حساب ولګوي.

﴿۳۳﴾ د اِمام او مُؤَذِّن، د جُمات خادِم او (دِيني او دُنياوي) هر قِسم مُلازمتونو کښې د عُرف او عادت (يعني د جارِي معمول) مطابق کيدلو

والا رُخصتونو [چوټيانو] کښې د تنخواه نه مُجرائي [يعني کټوتي] نه شي کيدې، البته که د عُرف (يعني رائج طريقې) نه علاوه رخصتونه [چوټيانې] وکړې شي نو بيا دِ د تنخواه نه مُجرائي [يعني کټوتي] وکړې شي.

﴿٣٤﴾ څوك چه د خپل جيب نه تنخواه ورکوي هغه ته د اِمام يا مُـؤَذِّن وغيره د عُرف [يعني معمول] نه زيات رخصت [چوټي] کولو باندې د مُجرائي [يعني کټوتي] کولو يا نه کولو اختيار دې.

﴿٣٥﴾ زمونږه په عُرف کښې اِمام يا مُـؤَذِّن ته په مياشت کښې د يوې يا دوه رخصتونو [چوټيانو] کولو اجازت وي، هغوئي ته به د دې رُخصتونو [چوټيانو] تنخواه ورکوله شي. البته د مختلفو علاقو په اعتبار عُرف مختلف کيدې شي.

﴿٣٦﴾ که امام يا مُـؤَذِّن د دعوتِ اسلامي د درې ورځو په مَدَني قَافِله کښې سفر وکړي نو د يوې ورځ تنخواه دِ ضرور کټ کړي او د يوې ورځې هُم صرف په دې صورت کښې چه په هغه مياشت کښې د بلې ورځې رُخصت [چوټي] ونکړي. الغَرَض د ماهانه دوه رُخصتونو [يعني چوټيانو] نه علاوه د زياتو رُخصتونو [يعني چوټيانو] تنخواه دِ مُجرائي [يعني کټ] کړي هله چه په عُرف کښې صرف دوه رُخصتونه [يعني چوټيانې] وي.

﴿۳۷﴾ کله کله اِمام د لـمانځه او مُـؤَذِّن د اذان رُخصت [يعني چوټي] وکړي، په داسې موقع به د هغه ځائ عُرف (يعني معمول) کتلې شي که داسې رُخصتونو [يعني چوټيانو] باندې هلته مُجرائي [يعني کټوتي] نه کيږي نو نه دي کول پکار، ګنې [يعني که د مُجرائي [يعني کټوتي] کولو رواج وي نو بيا] دِ کټ کړې شي.

﴿۳۸﴾ د جُماتونو د مُتَوَلِّيانو د رضامندئ په صورت کښې که امام او مُـؤَذِّن د عُرف نه زياتو رُخصتونو [يعني چوټيانو] کښې خپل نائب ورکوي نو تنخواه به ئې نه کټ کيږي.

﴿۳۹﴾ زمونږه په ځائ [يعني وطن] کښې عُموماً مُـؤَذِّن سره صَراحَةً (يعني واضح طور) يا دَلَالةً طے [يعني معاهَده] وي چه هغه به د اِمام په غير موجودګئ کښې د لـمانځه جَمعَ ورکوي، په داسې صورت اِمام هغه نائب نه شي جوړولې، بل څوك دِ جوړوي. که د بل کس نائب جوړلو باندې مُـؤَذِّن يا انتِظامِيه خوشحاله نه وي نو ضروري ده چه د نائب مُقررولو په ځائ مُجرائي [يعني کټوتي] وکړي، البته دا صورت کيدې شي چه د مُـؤَذِّن صاحب او انتِظاميه سره د مشاوَرت نه پس څوك بطور نائب مقرر کړي.

﴿۴۰﴾ امام او مُـؤَذِّن په کال کښې يو ځل زيات و کم د يوې هفتې د پاره خپلو خپلوانو سره ملاقات د پاره د ښار نه بهر تللې شي، د هغه ورځو د تنخواه به حقدار وي.

﴿٤١﴾ كه امام يا مُـؤَذِّن يا د يو دُكان وغيره مُلازم سخت بيمار شي يا د هغه د كور څوك وفات شي نو په دې صورت كښې كيدونكو رُخصتونو [يعني چوټيانو] كښې به د هٰغه ځاىٔ عُرف (يعني معمول) كتلې شي كه د تنخواه كټ كولو عُرف وي نو كټ دِ كړې شي ګني [يعني كه د كټ كولو رواج نه وي نو بيا] به نه كټ كيږي.

﴿٤٢﴾ كه د امام يا مُـؤَذِّن يا مُدَرِّس يا د يو مُلازم كور لرې وي او د "سخت هړتال" په وجه سورلي پيدا نه كړي يا ئې د هنګامو د صحيح انديښنې په وجه رُخصت [يعني چوټي] وكړه نو كه د مخكښې نه طے [يعني مُعاهَده] شوي وي چه په داسې موقع به تنخواه نه كټ كيږي يا د هغه ځاىٔ عُرف (يعني معمول) داسې دې چه په داسې موقعو كټوتي نه كيږي نو د داسې رُخصت [يعني چوټۍ] تنخواه به وركوله كيږي. ياد ساتئ! معمولي هړتال د رُخصت [يعني چوټۍ] د پاره عُذر نه دې.

﴿٤٣﴾ د حج يا عُمرې په وجه كيدونكو رُخصتونو [يعني چوټيانو] تنخواه به كټ كيږي. (اوګورئ (فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه ، ج١٦،ص٢٠٩)

﴿٤٤﴾ كه په ٢٨ [اته ويشتم] تاريخ ئې مُلازَمت پريښودو نو (د هجري سن په اعتبار كه نوكري وي نو) د پاتې ورځو مَثَلًا د يوې يا دوه ورځو يا (كه د عِيسوي سن په په اعتبار نوكري وي نو) د پاتې [دوه يا] درې ورځو د تنخواه مُستَحِق [يعني حقدار] نه دې.

﴿۴۵﴾ د پرائيويټ [يعني غير سرکاري] اِدارې د مالِك يا د هغه د نائب په اِجازت د کار په وخت کښې مُلازِم سُنَّتِ غير مُؤَکَّده، نفلونه او نور اَذکار [وظائف] لوستلې شي او که اجازت وي نو درس، د سُنَّتو ډکه اجتماع وغيره مُستَحَب کارونو کښې شريك کيدې شي.

﴿۴۶﴾ څوکيدار، ګارډ يا پوليس وغيره د چا کار چه په ويښه څوکۍ کول وي که د ډيوټۍ [يعني د کار په وخت] کښې اِرادتاً اوده شو نو ګنهګار به وي او (اِرادتاً يا بې اِرادې) چه څومره ساعت اوده شو يا غافل شو د هغه همره ساعت د تنخواه مُجرائي [يعني کټوتي] به کوي.

﴿۴۷﴾ د ملازمانو خپلې مطالبې [په مالك يا اِداره د] منظورولو يا حالات لږ بهتر کولو د پاره د کار نه انکار يعني هړتال کول (يعني کار نه کول) د ملازِم او مالِك په مابين کښې د شوي مُعاهَدې خِلاف ورزي ده داسې کول منع دي.

﴿۴۸﴾ په يو وخت کښې دوه ځائ نوکري کول يعني په اِجاره د پاسه بله اِجاره کول **ناجائزه** دي. البته که د مخکښې نه بل ځائ کښې نوکري کوي نو بيا د خپل مالِك په اجازت دويم ځائ کښې کار کولې شي، هله چه د وړومبي ځائ په وجه د دويم ځائ په کار کښې د هيڅ قِسمه کوتاهي نه کيږي.

﴿۴۹﴾ د عُرف (يعني معمول) مطابق چه کوم رُخصت [يعني چوټي] کيږي په هغې کښې مُستاجِر (يعني مالِك) د مُلازِم نه کار نه شي اخستې، که جبراً [يعني په زور] ترې کار اخلي نو ګنهګار به وي. خو د حُکم په انداز کښې نه فقط د درخواست په صورت کښې [يعني چه مالِك ورته درخواست وکړي نو داسې صورت کښې] که مُلازِم په خوشحالئ کار وکړي يا د رُخصتونو [يعني چوټيانو] په وختونو کښې د کيدونکي کار که په خپل مينځ کښې تنخواه مقرر کړي نو بيا جائز دي. دا قاعِده ياده ساتئ! کوم ځائ کښې چه دَلالَةً (يعني د علامت نه معلومه) يا صَراحَةً (يعني ښکاره) اُجرت ثابت وي په هغې کښې مقررول **واجِب** دي. په داسې موقع د مقررولو په ځائ داسې وئيل چه "کار له راشه بيا به ګورو" "چه څه مناسب وو هغه به درکړو" "خوشحاله به دِ کړو" "خرچه به درکړو" وغيره الفاظ قطعاً ناکافي دي. د مقررولو نه بغير اُجرت ورکول او اخستل ګناه ده، د مقررولو نه زيات غوښتل هُم منع دي. دا قاعِده د رکشې او ټيکسي ډرائيورانو او د هر قِسم کاريګرانو وغيره او د هغوئي نه کار اخستونکو د پاره ياد ساتل ضروري دي. البته چه په کومه موقع فريقينو ته د تړلي مزدورئ يا کرايه په باره کښې معلومه وي نو هلته د مقررولو حاجت نشته او چه کوم ځائ کښې داسې مُعامَله وي چه کار اخستلو والا اُووئيل چه هيڅ هُم نه درکووم او هغه هُم اُووئيل چه هيڅ

به هُم نه اخلم او بيا ئې په خپله خوښه څه ورکړل نو په دې لين دين کښې څه باك نشته.

﴿۵۰﴾ په مزدورئ او ډيوټئ [يعني کار] کښې د سستئ باوجود چه چا پوره تنخواه اخستله او اوس پښيمانه دې نو د هغه د پاره صرف زباني توبه کافي نه ده، توبه کولو سره سره به چه د نن ورځ پورې ئې څومره تنخواه زياته اخستې ده د هغې به هُم شرعي ترکيب [يعني تقاضې پوره] کول [ضروري] وي. چنانچه اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه د دې مسئلې حل داسې بيان کړې دې: (څومره کار ئې چه کړې وو) د هغې نه چه څه زيات ورکړې شوي وو (هغه دِ) مُستاجِر (يعني چا چه په اُجرت لګولې وو هغه ته) بيرته ورکړي. که هغه نه وي نو د هغه وارِثانو ته دِ ئې ورکړي، که هغوئې هُم پيدا نه کړې (نو) مسلمان مُحتاج (يعني فقير يا مِسکين) باندې دِ ئې تَصَدُّق (يعني خيرات) کړي. په خپل صَرف (يعني استعمال) کښې راوړل يا په غيرِ صَدَقه کښې خرچ کول حرام دي. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج۱۹، ص۴۰۷) د وقف په اِداره کښې به په هر حال کښې بيرته ورکول وي که رقم درته ياد نه وي نو د ظَنِّ غالِب [يعني د غالِب ګُمان] په حساب مالِيَّت معلوم کړئ او په بيان کړې شرعي حُکم عمل وکړئ. ياد ساتئ! پردې مال په ناجائزه طريقه خوړل مو په محشر کښې نښلولې شي چنانچه فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

دي:”ځوك چه پردي مال واخلي هغه به د قيامت په ورځ **اللّٰه** تعالیٰ ته جُذام وهلي پيش کيږي.“ (اَلْمُعْجَمُ الْكَبِيْر ج١ص٢٣٣حديث٦٣٧)

**نوټ:** دا رساله ”د ملازمانو د پاره ٢١ مَدَني ګُلونه“ [په نوم] وړومبې ځل ٣ **جمادَی الْاُوْلیٰ** سن ١٤٢٧ھ (بمطابق مئ ٢٠٠٦) کښې چاپ شوي وه او ډير ځله چاپ کړې شوه بيا د نورې اِضافې او ترمِيم سره چاپ شوه. په **جمادَی الْاُوْلیٰ** سن ١٤٣٤ (بمطابق مارچ ٢٠١٣) کښې مي پرې نظرِثاني وکړه.

طالبِ غمِ مدینہ و
بقیع و مغفرت و
بے حساب
جنت الفردوس
میں آقا کا پڑوس

جُمادَی الأولیٰ ۱۴۳۴ھ
مارچ 2013ء

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# شَفاعت واجِب ہو گئی

فرمانِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: جس نے یہ کہا:

"اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ"[1]

اس کے لیے میری شَفاعت واجِب ہوگئی۔

(مُعجم کبیر ج۵ ص۲۵ حدیث ۴۴۸۰)

[1] اے اللہ عَزَّوَجَلَّ! حضرتِ محمد صَلَّى اللّٰه تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم پر رَحمت نازِل فرما اور انہیں قِیامت کے روز اپنی بارگاہ میں مُقرَّب مَقام عطا فرما۔

MC 1286


فیضانِ مدینہ محلّہ سوداگران پُرانی سبزی منڈی، بابُ المدینہ (کراچی)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net